عمر بورا زماني

# شاعر ته

تـر څو به ځانګود خیالونو په تال
تر څـــو به ستایو د جبین خالونه
تر څو به مست یو د ساقي په خمار
تر څو به اخلو د ساقي جـامونه

د ګل له پاڼو شونډې مه جوړه وه
د ګل له رنګه رخسار مه جوړه وه
چا آننګی هم د آنـــارو سره وي
د اننګونه آنار مـــه جوړه وه

کله ګیدړ نه هم زمري جوړ شوی
د هر ګیدړه شیرخان مه جوړه وه
قهرمان کله د میدان نه تختي
له هر بزدل قهـرمان مه جوړه وه

چـــې د ملت په ژبه نه پوهیږي
ترېنه بابا د ملت مـــــه جوړوه
دا چي په زور د خـارجیانو راشي
ترینه مارشال د همت مه جوړه وه

یا خوګوډې د بــل په لاس کې لوبې
یا خو ځوانی دښایست خوا کې لوبې
یا خـــو شاعر د خیال دنیا کې لوبې
یا د حسینو زلــــفو قات کې لوبې

د چا په  زور  دا ګـــډاکې راغـلی
په خپل اولس ظلمونه نه وینی دوی
پریږده بــورا دا د  قدرت وربي دي
د خپل وطن حـــالونه نه  وني دوی